امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۵ الی ۳۰ اسد ۱۴۰۴

## شماره یکصدو نوزدهم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د افغان ایډ مؤسیسې د راغلي لوړ پوړی پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی د لندن د افغان ایډ دفتر د امنا هیئت رئیس ښاغلې کریستوفر ویلیام (کیندر)، په لندن کې د افغان ایډ د دفتر د امنا هیئت غړی ښاغلی روبین جیمز سنکلییر تایلر، ښاغلی مارک راینر بودین، ښاغلی نایجل ډیویډ پوول، په افغانستان کې د افغان ایډ مؤسیسې عمومی رئیس ښاغلی چارلس (ډیوی)، په افغانستان کې د افغان ایډ مؤسیسې د برنامو د پلی کولو او کیفیت رئیس ښاغلی عبدالرحمن طارق او د افغان ایډ د دفتر د یوې پروژې مسئول ښاغلی محمد فواد داود زاده سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د عدالت او مدنی ټولنې د پیاوړتیا (JCSSO) مؤسسې ترمنځ د (۴۸۹,۳۳۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملې اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د عدالت او مدنی ټولنې د پیاوړتیا مؤسسې د پروګرامونو له مسؤل، محترم عباس سالمی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه په خپل کاری...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د افغانستان لپاره د ترکی د سرې میاشتی له مسؤل سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس ښاغلې الحاج ملا نورالدین ترابی د افغانستان لپاره د ترکې د سرې میاشتی له مسؤل نعیم الله کریمی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۳

### د پېښو چارو د همغږۍ معین د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ولایت له والي سره یې وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث)، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۴ نېټه د خپل څارنیز او اصلاحی سفر په ترځ کې، د یو تخنیکی، مسلکی...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغان ایډ مؤسیسې د راغلي لوړ پوړی پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د لندن د افغان ایډ دفتر د امنا هیئت رئیس ښاغلې کریستوفر ویلیام (کیندر)، په لندن کې د افغان ایډ د دفتر د امنا هیئت غړی ښاغلی روبین جیمز سنکلییر تایلر، ښاغلی مارک راینر بودین، ښاغلی نایجل ډیویډ پوول، په افغانستان کې د افغان ایډ مؤسیسې عمومی رئیس ښاغلی چارلس (ډیوی)، په افغانستان کې د افغان ایډ مؤسیسې د برنامو د پلی کولو او کیفیت رئیس ښاغلی عبدالرحمن طارق او د افغان ایډ د دفتر د یوې پروژې مسئول ښاغلی محمد فواد داود زاده سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل.

ښاغلې ترابی صاحب له هرڅه مخکی ټولو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی موږ ستاسو څخه ځانګړی مننه کوو چی په افغانستان کی د ۴۳ کلونو راهیسی فعالیت کوی او لا هم دې برخی ته ژمن یاست.

همداراز ښاغلې ترابی صاحب زیاته کړه چی افغانستان په هره برخه کی ډیر کار ته ضرورت لری خصوصاً له پېښو سر د مبارزې آمادګۍ اداره ځکه چی په هیواد کی طبیعی او غیرطبیعی پېښې راځی د هغوی ټول مشکلات دې ادارې ته راجع کیږی.

همداراز یې وویل چی موږ په پنځه برخو کی خلګو ته خدمتونو کوو لکه وقایه کول، پېښو ته چمتوالی، مخینوې، کومک کول او بیا رغونه ده خو د وقایې په برخه کی باید ډیر کار وسی ځکه د وقایوی پروژو په پلی کیدو سره په کم مصرف د ډیر زیان مخه نیول کیږی نو د دی لپاره باید خلګو استنادی دیوالونه او ته چیک ډیمونه جوړ سې، د چیک ډیم جوړول ډیری ګټی لری چی د دوې مهمی ګټی یې دادی چی اوبه پکښې زیرمه کیږی او بل روانی اوبه خلګو ته زیان نسی اړولی.

ښاغلې چارلس تر هرڅه مخکی د دې ادارې د لوی رئیس او کاری ټیم څخه ځانګړی مننه وکړه او زیاته یې کړه چی د دې ادارې په کارونه کی پوره شفافیت او چټیکتا راغلې ده او مننه یې وکړه چی موږ ته مو د ملاقات وخت راکړ.

د افغان ایډ مؤسیسې لوی رئیس ښاغلی چارلس زیاته کړه چی دوی په افغانستان کی د ۴۳ کلونو راهیسی په ۱۳ ولایتونو کی فعالیت کوې او افغان اولس ته په بیلابیلو برخو کی کار کوې.

همدا رنګه ښاغلی چارلس زیاته کړه چی سږ کال د افغانستان لپاره ۱۶ ملیونه پونډه بودیجه لرو چی یو اشاره یې پنځه (۱.۵) میلونه پونډ د پېښو برخی ته ځانګړی کړې ده او په راتلونکی کی به تفاهم نامه هم سره لاسلیک کړو.

په ورسیتو کی راغلی پلاوی د یادی ادارې د لوی رئیس څخه ځانګړی مننه وکړه او خوښې یې وښودل چی په دې اداره کی زیات بدلون راغلی دی او موږ به هم هڅه کوو چی د دې ادارې د لاری خلګو ته غوره خدمتونه وړاندی کړو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د عدالت او مدنی ټولنې د پیاوړتیا (JCSSO) مؤسسې ترمنځ د (۴۸۹,۳۳۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی د عدالت او مدنی ټولنې د پیاوړتیا مؤسسې د پروګرامونو له مسؤل، محترم عباس سالمی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

ښاغلې محترم ترابی صاحب، د یادې مؤسسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، چې خپله تطبیق کیدونکې پروژه باید په پوره شفافیت او چټکتیا سره ترسره کړئ.

په دوام کې، د دیادی مؤسسې د پروګرامونو مسؤل، محترم عباس سالمی له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوی رئیس؛ محترم ترابی صاحب څخه د وخت ورکولو په پار مننه وکړه او د خپلې پروژې په اړه یې معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې موږ به خپله پروژه په پوره شفافیت او چټکۍ سره پلي کوو.

د یادونې وړ ده، چې دواړو لوریو ټولټال د څلور سوه نه اتیا زره او درې سوه او دوه دېرش (۴۸۹،۳۳۲) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک کړه، چې له مخې به یې د پنجشیر ولایت په دره، خنج ولسوالیو او مرکز بازار ارک ښار کې ۲,۲۱۶ اړمنو، زیانمنو شویو او بې سرپرسته کورنیو ته په څلورو پړاوونو کې په داسې ډول، چې په بازار ارک ښار کې ۷۴۰، دره ولسوالۍ کې ۷۳۸ او خنچ ولسوالۍ کې ۷۳۸ کورنیو هرې یوې ته د څلورو میاشتو په اوږدو کې د خوراکی توکو د برابرولو په موخه ۱۶۶،۹۲ ډالر وویشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د ترکی د سرې میاشتی له مسؤل سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس ښاغلې الحاج ملا نورالدین ترابی د افغانستان لپاره د ترکې د سرې میاشتی له مسؤل نعیم الله کریمی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ښاغلې ترابی صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې موږ غواړو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره یوه قوی، بې طرفه او بشرپاله اداره واوسی او خدمتونه یې ټولو هیوادوالو ته ورسیږی او په هره برخه کی مو کار ورته کړی دی او لا هم ډیر کارته ضرورت لری.

همداراز، ښاغلې ترابی صاحب زیاته کړه چې موږ غواړو د دې اداری لپاره په مرکز او ولایتونو کی په منظم ډول رضاکاران جذب او تربیه کړو چې په کابل ولایت کی مو رضاکاران جذب او تریننګ کړل او دا لړی به انشاالله ولایتونو ته هم وغځوو نو په دی مهم کار کی موږ داړونده نهادونو څخه پوره همکاری غواړو

د افغانستان لپاره د ترکی د سرې میاشتی مسؤل د ترابی صاحب د کارونو څخه ځانګړی مننه وکړه او زیاته یې کړه چې په دې اداره کی زیات بدلون راغلی دی او د هغه تر څنګ اداری کارونه چټک سوی دی.

ښاغلی نعیم الله کریمی وویل چې موږ به د ترکې د سفارت، TIKA او JIKA سره هم خبری وکړو تر څو ددې ادارې او د ترکې هیواد د AFAD ادارې تر منځ همغږی وکړی او اړیکی پیاوړی کړی.

# د پېښو چارو د همغږۍ معین د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ولایت له والي سره یې وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداری د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۴ نېټه د خپل څارنیز او اصلاحی سفر په ترڅ کې، د یو تخنیکی، مسلکی او فنی پلاوی په ملتیا بامیان ولایت ته سفر وکړ او د بامیان له والی، محترم الحاج مولوی عبدالله سرحدی سره یې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوی محمد طاهر شاکر په شتون کې وکتل او خبرې یې وکړې.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین د پېښو د مدیریت په برخه کې د ځایی چارواکو له هڅو څخه مننه وکړه او د پلاوی د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست د فعالیتونو او کړنو عمومی وضعیت ارزول، د اسلامی امارت د مشرتابه د عالی مقام د فرامینو، احکامو او مکاتبو د تطبیق څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د تفاهم‌نامو د پلي کیدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشردوستانه مرستو د وېش څارنه او د موجودو ستونزو او وړاندیزونو اورېدل دی.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري مشرتابه ژمنتیا لری چې د خپلو صلاحیتونو او قانونی ماموریتونو په چوکاټ کې، د وقایوی پروژو په پلي کولو، د زیانمنو ښېرنیو اړتیاوو د پوره کولو او په بامیان ولایت کې د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی لپاره هر اړخیزه همکاری وکړی.

وروسته، د بامیان والی، محترم الحاج مولوی عبدالله سرحدی، یاد پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې څارنه د دولت‌دارۍ اساسی اصل دی او په چارو کې د ښه‌والی لپاره مهم رول لری. د تخنیکی پلاوی شتون، چې په سر کې یې یو مسلکی شخصیت وی، د کار کیفیت لوړولو کې ډېر اغېزمن دی.

وروسته له هغه، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د کارونو پروسه یې له نږدې وڅارله. په دې لیدنه کې، هغه د ریاست له رئیس او کارکوونکو سره خبرې وکړې، د هغوی ستونزې، نظرونه او وړاندیزونه یې واورېدل او کارکوونکی یې وهڅول چې خدمات په چټک، پر وخت او اغېزمن ډول وړاندې کړی.

د پېښو چارو د همغږۍ معین د کارکوونکو له هڅو څخه مننه وکړه او ټینګار یې وکړ چې له مراجعینو سره نیک چلند، د دندو پر وخت سرته رسول، د بیت المال سمه او شفافه کارونه، د اداری اصولو رعایت او خلکو ته صادقانه خدمت وکړی.

د یادونې ده، چې تخنیکی، فنی او مسلکی پلاوی خپل څارنیز بهیر په اړوندو برخو کې پیل کړی دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ښځو ټولنیزې مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغان ښځو ټولنیزې مؤسسې د پروژې له مسؤل، عمران الله کامران سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۳ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب، د یادې مؤسسې د پروژې مسؤل ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې خوښ یو چې مؤسسې زیانمنو کورنیو ته مرستی ویشی او د دې مؤسسې د ټول کاری ټیم څخه یې مننه وکړه چې زموږ د ځورېدلی ولس سره همکاری کوی.

همدا راز، ترابي صاحب زیاته کړه چې مرستی باید په شفاف ډول او ژر تر ژره پر زیانمنو کورنیو وویشل شی.

په دوام کې، د دیادی مؤسسې د پروژې مسؤل، عمران الله کامران وویل، موږ غواړو چې افغان ولس ته له بیلابیلو لارو مرستې برابرې کړو او پر مستحقو کسانو یې وویشو.

د یادونې وړ ده، چې دواړو لوریو تفاهم نامه لاسلیک کړه چې له مخې به یې د کابل ولایت په ۸ ناحیو کی د ښېړنیو حالاتو پر مهال ۵۳۵ کورنیو ته نغدی مرستې وویشل شی، چې هرې کورنۍ ته به ۵،۸۰۰ افغانۍ ورکول کېږی چې ټولټال درې ملیونه یو سل او درې زره (۳،۱۰۳،۰۰۰) افغانی کیږی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس له یوې وقایوی پروژې څخه څارنه وکړه چې په پغمان ولسوالۍ کې څه د پاسه د پنځه میلیونه افغانیو په ارزښت پلې کېږی



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په ارغندې کلی کې د یوې وقایوی پروژې د پلې کېدو له بهیر څخه څارنه وکړه, چې د پنځه میلیونه افغانیو څخه په زیات ارزښت پلې کېږی.

محترم ترابي صاحب د پروژې د نږدې کتنې پر مهال وویل، د وقایوی پروژو پلې کول د خلکو د ژوند او مال او د هېواد د زیربناوو د زیان‌منېدو کچه راټیټوی، له همدې امله دا زموږ د ادارې د کارونو په لومړیتوب کې راځی، او په همدې موخه موږ اوس مهال د پغمان ولسوالۍ په ارغندې کلی کې یوه مهمه پروژه پلې کوو.

نوموړی له کار څخه د نږدې څارنې ترڅنګ، د پروژې له مسؤلینو او انجنیرانو څخه مفصل راپور واخیست او هغوی ته یې د پروژې د روښانه، چټک او معیاری پلې کولو په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.

یاده پروژه ټولټال د پنځه میلیونه او اووه نوی زره او دوه سوه څلوېښت (۵،۰۹۷،۲۴۰) افغانیو په ارزښت پلې کېږی، چې د ۲۸۵ مترو په اوږدوالی د یو کاریز پاکول د دربیو کوچنیو کاریزونو اساسی جوړښت، او د یو بل کرنیز کانال د جوړولو کار چې اوږدوالی یې ۵۷۰ متره دی، پکې شامل دی.

د دې پروژې له بشپړېدو وروسته به له ۲۰۰۰ څخه زیاتې کورنۍ او زرګونه جریبه کرنیزه ځمکه له اوبو څخه ګټه پورته کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغانستان د پیاوړتیا او اقلیم د نوښت (ARCID) مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان د پیاوړتیا او اقلیم نوښت مؤسسې له رئیس، محترم احسان الله الفی سره د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه په خپل کاری دفتر کی وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب، د یادې مؤسسې رئیس ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې د افغانستان خلک په هره برخه کې مرستو ته اړتیا لري او له مؤسسو څخه مو دا هیله ده، چې تر ډېره د وقایوی پروژو په برخه کې د هېواد د ځوربدلی ملت لپاره کار وکړي او همداراز باید د خپلو پروژو په تطبیقولو کې له سرعت او شفافیت څخه کار واخلی.

ورپسې، د دیادی مؤسسې رئیس، محترم احسان الله الفی د خپلې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه چې موږ به خپله پروژه د اسلامی امارت د قوانینو په چوکاټ کې پلې کوو.

د یادونې وړ ده، چې دواړو لوریو ټولټال د لس زره اته سوه او اتیا (۱۰،۸۸۰) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک کړه چې له مخې به یې د ننګرهار ولایت په ده بالا، آچین، کوټ، بټی کوټ، دور بابا، نازیان، حصارک، شیرزاده، سپین غر، خوګیانی، رودات، سرخ رود، شینواری، پچیر آګام، بهسود ولسوالیو او مرکز جلال آباد ښار کې د طبیعی پېښو له امله ۴۸۸ زیانمنو شویو کورنیو ته د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) معیاری بسته او نغدی پیسې وېشل کېږی، چې په نغدی ډول به هرې کورنۍ ته ۵،۸۰۰ افغانۍ او خوراکی توکو کې به هرې کورنۍ ته په دوه پړاوونو کې ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱ کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال نخود ووېشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له فعالیتونو څخه لیدنه وکړه او د دې ولایت له والي سره یې وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی ځارنوال (حاجی وارث)، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۸ نېټه د یو تخنیکی، مسلکی او فنی پلاوی په مشرۍ، د خپلو رسمی سفرونو د دوام په لړ کې، له لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار او بامیان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له څارنې وروسته، غور ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، محترم معین صاحب د غور ولایت له والی، محترم الحاج مولوی حیات‌الله مبارک، سره د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, ملا عبدالوکیل عبیدالله او د مل پلاوی په شتون کې وکتل او خبرې یې وکړې.

په دې ناسته کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین د پېښو په مدیریت کې د ځایی مسؤلینو له هڅو قدردانی وکړه او زیاته یې کړه، چې د دې سفر موخې د ریاست د فعالیتونو او کړنو عمومی ارزونه، د اسلامی امارت د مشرتابه د احکامو او فرامینو د پلې کېدو څارنه، د مالی او اداری چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو پر پلې کېدو څارنه، د وقایوی پروژو ارزونه، د بشری مرستو د وېش د بهیر څارنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل دی.

نوموړی ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده، ترڅو د خپلو قانونی صلاحیتونو او دندو په چوکاټ کې د وقایوی پروژو په پلې کېدو، د زیانمنو کسانو د بېړنیو اړتیاوو په پوره کولو او د طبیعی پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والی په برخه کې هر اړخیزه همکاری وکړی.

له دې وروسته، د غور والی د ولایت د جغرافیایی موقعیت او صعب‌العبوره سیمو ته په اشارې وویل, چې د غور خلک د طبیعی پېښو او ښوزلۍ له پلوه ډېر زیان‌منونکی دی او د بشری مرستو، وقایوی پروژو او د خیریه مؤسسو د همکاریو جلب ته بیړنۍ اړتیا لری.

د ناستې په پای کې، محترم ملا عبدالولی ځارنوال ژمنه وکړه چې د دې سفر پر مهال راپورته شوې ستونزې او وړاندیزونه به د مرکزی ادارې، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله عالی مقام او د ریاست‌الوزراء محترم مقام سره شریک کړی.

همدارنګه، د پېښو چارو د همغږۍ معین د هلوټرسټ ماین پاکۍ مؤسسې د فعالیتونو راپور واورېد او د ککړو سیمو د پاکولو د بهیر پر چټکتیا او په دې برخه کې د لا زیات فرصتونو د برابرولو ټینګار وکړ.

یاد پلاوی د هلو ټرسټ مؤسسې له مرکزی دفتر څخه هم لیدنه وکړه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې مؤسسې ترمنځ د همغږۍ، ستونزو او وړاندیزونو په اړه خبرې وکړې.

وروسته یاد پلاوی د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د دې ریاست د کار بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، محترم معین صاحب له رئیس او کارکوونکو سره خبرې وکړې، د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او هغوی یې د دندو د لایحې سره سم د چټکو، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو وړاندې کولو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده چې یاد پلاوی د خپل څارنیز او رهنمودی پروګرام پیل په همدې ریاست کې وکړ.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) ترمنځ په هېواد کې له خطر سره مخ په سیمو کې د وقایوي پروژو د پلې کولو په موخه تخنیکي غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کډوالۍ نړیوال سازمان ترمنځ په هېواد کې له خطر سره مخ په سیمو کې د وقایوي پروژو د پلي کولو په موخه د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه تخنیکي غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د نړیوالو اړیکو آمر، محترم برهان الدین شینواری، د یادې ادارې د مقام سکرتر، محترم سید احمد عثماني او د کډوالۍ نړیوال سازمان د طبیعي پېښو د خطرونو کمولو مسؤل، محترم حامد برهان ګډون درلود.

د غونډې په پیل کې محترم برهان الدین شینواری، د یاد سازمان له دوامداره همکاریو او مرستو څخه مننه وکړه او اړمنو او زیانمنو خلکو ته د رسېدنې په برخه کې یې د IOM سازمان همکارۍ مهمې وبللې او د داوړو ادارو ترمنځ یې د همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ.

د دې غونډې اصلي موخه د کډوالۍ نړیوال سازمان ته د هېواد د ۳۴ ولایتونو په هغو سیمو کې د وقایوي پروژو پلي کولو لړلیک سپارل و، چې د طبیعي پېښو له خطر سره مخ دي او د دې ادارې د تخنیکي ټیم له لوري یې سروې او ارزونه ترسره شوې او د ادارې په ډیټابیس کې ثبت شوې دي، او په همدې سیمو کې د ۴۵۰۰ پروژو لړلیک چې لومړنۍ سروې یې بشپړې شوی او د ۴۴۰ نورو هغو پروژو لړلیک چې سروې، ډیزاین او د لګښت اټکل یې بشپړ شوی، د کډوالۍ نړیوال سازمان استازی ته د پروژو د پلي کولو لپاره وسپارل شول.

همدارنګه د کډوالۍ نړیوال سازمان د طبیعي پېښو د خطرونو د کمولو مسؤل، محترم حامد برهان له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس لخوا د وقایوي پروژو پلي کولو او نورو بشردوستانه فعالیتونو ترسره کولو په برخه کې له پراخې همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې ویل چې یاد سازمان په پلان کې لري چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوري د هوکړې پر بنسټ د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د طبیعي پېښو د خطرونو کمولو ۹۹ وقایوي پروژې پلي کړي، هغه زیاته کړه چې د ۴۵۰۰ پروژو لړلیک به د یاد سازمان له مشرتابه او وروسته له ډونرانو سره شریک کړي او په راتلونکې کې به د هېواد په کچه وقایوي پروژې د همدې لړلیک له مخې پلي کېږي.

په پای کې دواړو لوریو د طبیعي پېښو د مدیریت په برخه کې پر دوه اړخیزه همکاریو ټینګار وکړ او اړمنو او زیانمنو خلکو ته پر وخت د رسېدنې لپاره د همغږۍ د زیاتوالي په اړه ژمنتیا وښودل شوه.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۰ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د نعمت آباد ولسوالۍ اړوند ۱۷۰ اړمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۲ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم او یوه بوری ۲۵ کیلويي وریجې ووېشل شوې.

## په غزني ولایت چاودیدونکې توکي او ماینونه کشف او خنثی کړل شول




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین‌پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د بیړنۍ اړیکې شمېرې (070,8606060) له لارې د ترلاسه شوی اړیکې پر بنسټ، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۲ نېټه د ایریا مؤسسې د بیړنۍ ځواب وینې ټیم د غزني ولایت د آب بند ولسوالۍ او د دې ولسوالۍ صلاح خیلو کلي ته د عملیاتو لپاره ولېږدوه.
د دې عملیاتو په ترڅ کې، یاد ټیم په لاس جوړ شوی ماینونه، د ټانک ضد ماینونه او بېلابېل چاودېدونکې توکي چې د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی و، کشف، په خوندي ډول یې انتقال او له منځه یووړل.
همدارنګه، د جګړو څخه پاتې ماینونو او چاودېدونکو توکو د احتمالي پېښو د مخنیوی په موخه، د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او چاودېدونکو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام ترسره شو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۲۳۳ خانواده کمک نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مؤسسه ورلد ویژن، در چارچوب پروژه «ایجاد تاب‌آوری از طریق کمک‌های تغییر رفتار اجتماعی و نجات زندگی»، بتاریخ ۲۲ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۲۳۳ خانواده مستحق در ولسوالی چهل‌گزی آن ولایت، کمک نقدی مرحله اول و دوم را توزیع کرد.
در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۵ هزار و ۸۴۲ افغانی معادل ۴۲.۸ دالر پرداخت شد که در مجموع برای این تعداد خانواده، مبلغ یک میلیون و ۳۶۱ هزار و ۱۸۶ افغانی اختصاص یافته بود.

## په بغلان ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل شول

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د OMAR ماین پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب وینې تخنیکي ټیم QRT-02، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۲ نېټه د یاد ولایت د پلخمری ښار حسین خېلو کلی په شپږمه ناحیه کې درې عدده ارټیلری مرمۍ ومونډلې او په خوندي توګه یې له منځه یوووړې.




د یادونې وړ ده، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو او د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنې پر بنسټ د ماین پاکۍ دا عملیات ترسره شول او اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکی له احتمالی مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندي پاتې شول. د یاد ریاست مسؤلینو له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ARCI مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په تخنیکی همکارۍ او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالی ملاتړ، د دې ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د طبیعی پېښو له امله ۱۶ زیانمنو کورنیو ته له سروې ووسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۳ نېټه خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱ کیلو مالګه او ۱۲.۵ کیلو دال ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۳۱۵ خانواده مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با بنیاد آغا خان برای اسکان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، بتاریخ ۲۳ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۳۱۵ خانواده متضرر و مستحق در ولسوالی خرم‌سارغ مساعدت نقدی توزیع کرد.

در این روند در حضور مسولان برای هر خانواده مبلغ ۴،۳۵۰ افغانی مساعدت نقدی توریع شد که در مجموع مبلغ یک میلیون و سه‌صد و هفتادهزار و دو صد پنجاه(۱،۳۷۰،۲۵۰) افغانی، برای این خانواده‌ها در نظر گرفته شده بود.

## د کندز ولایت په مرکز کې فیوزونه او چاودېدونکی توکی کشف او خنثی کړل شول




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د ماین‌پاکۍ د همغږۍ او انسجام ریاست، د بېړنۍ اړیکي شمېرې (070,8606060) له لارې د ترلاسه شوی اړیکې پر بنسټ، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۲ نېټه د اومر مؤسسې د بېړنۍ ځواب وینې ټیم د غزنی ولایت د آب بند ولسوالۍ صلاح خیلو کلی ته د عملیاتو لپاره ولېږدوه.

د دې عملیاتو په ترڅ کې، یاد ټیم یو شمېر فیوزونه او چاودیدونکی توکی چې د سیمې د اوسېدونکو ژوند یې له خطر سره مخ کړی و، کشف، په خوندی ډول یې انتقال او له منځه یووړل.

همدارنګه، د جګړو څخه پاتې ماینونو او چاودېدونکو توکو د احتمالی پېښو د مخنیوی په موخه، د سیمې اوسېدونکو ته د ماینونو او چاودېدونکو توکو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوی پروګرام ترسره شو.

## د ننګرهار ولایت په لعل پوره ولسوالۍ کې د یو استنادی دېوال جوړولو د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۳ نېټه د لعلپوره ولسوالۍ په ورسک برادرک کلی کې د یو استنادی دېوال جوړولو د بنسټ ډبره کېښوده.

یاده پروژه د طبیعی پېښو د احتمالی زیانونو د مخنیوی په موخه پیل شوې ده او د بشپړېدو وروسته به د سیمې د خلکو ستونزې به تر ډېرې کچې حل کړی.

یاد استنادی دېوال د ۲۰۰ مترو په اوږدوالی او د ۱۶ مکعب مترو د ډبرو په جوړښت، د دې اداري له بودجې څخه د یو میلیون (۱,۰۰۰,۰۰۰) افغانیو په لګښت جوړېږی.

د پرانستې په مراسمو کې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ رئیس، قاری داد محمد حسینی، انجنیرانو او سیمه ییز مسوولین ګډون درلود.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ننگرهار برای ۷۰ خانواده آسیب‌دیده کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRAA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ننگرهار با همکاری مالی این مؤسسه، بتاریخ ۲۳ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۷۰ خانواده آسیب‌دیده در قریه‌های باسول، هزارناو، گردی غوث و ډکه ولسوالی مومندره کمک نقدی توزیع نمود.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسؤولین مبلغ ۱۱,۴۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع هفت‌صد و نود و هشت‌هزار( ۷۹۸,۰۰۰ ) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## په کندهار ولایت کې ناچاوده توکی کشف او خنثی کړل شول



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د هلو ټرسټ ماین پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب وینې تخنیکی ټیم QRT-09، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۳ نېټه د یاد ولایت په شاه ولیکوټ او ارغستان ولسوالیو کې یوه بوشکه ماین او نور ناچاوده توکی وموندل او په خوندی توګه یې له منځه یوووړل.

د یادونې وړ ده، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو او د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنې پر بنسټ د ماین پاکۍ دا عملیات ترسره شول او اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکی له احتمالی مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندی پاتې شول. د یاد ریاست مسؤلینو له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لېدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستی ووېشلې



د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست، د یاد ولایت په دهراوډ ولسوالۍ کی د طبیعی پېښو له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۴ نېټه خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یوه بوری ۵۰ کېلویی غنم، یوه تخته کمپله او درې کلچې صابون ووېشل شول.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۵ شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په لارښوونه، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام سره په همغږۍ، د کامدېش ولسوالۍ اړوند د بارانونو او سېلاب له امله د ۴ شهیدانو کورنیو او یو ټپی شوی کس ته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۴ نېټه نقدی مرسته وویشله.

د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، محترم مولوی سیف‌الله خالد، د شهیدانو له کورنیو سره خواخوږۍ څرګنده کړه او دعا یې وکړه، هغه وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره تل ژمنتیا لری چې ټولو پېښځپلو ته رسېدنه وکړی.

د یادونې وړ ده، چې په دې لړۍ کې د هر شهید کورنۍ ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او یو ټپی شوی کس ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۹۰،۰۰۰ افغانۍ د یادو کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۳۰ کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۳۰ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۴ نېټه د خوراکی توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې ۵۰۰ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو غنم، یو هایجین کیټ او ۷۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۱۲۸ خانوادۀ عودت‌کننده اجباری کمک های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، در مرکز آن ولایت و شش ولسوالی مختلف، پس از سروی بتاریخ ۲۵ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای خانوادۀهای عودت‌کننده اجباری از کشورهای ایران و پاکستان کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولین به هر خانواده ۲ بوری ۲۵ کیلویی برنج، ۱ عدد سطل پلاستیکی و ۲ تخته کمپل توزیع گردید.

در جریان این روند، قاری نورالله محمود رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر به خانواده‌های عودت‌کننده خوش‌آمدید گفت و اطمینان داد که مسئولین امارت اسلامی در خدمت آنان و بی جاشده قرار دارند.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۴ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د RRAA مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی همکارۍ، د کوزکنړ ولسوالۍ اړوند ۸۴ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۴ نېټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۱،۴۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۹۵۷،۶۰۰ افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## کشف و خنثی‌سازی مواد انفجاری در ولایت میدان وردک




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردک با همکاری تیم تخنیکی مؤسسه ماین‌پاکی ایریا QRT-۰۴ توانست در ولسوالی سیدآباد، منطقه منگلو، بتاریخ ۲۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق دو حلقه ماین دست‌ساز و چندین نوع مواد منفجره ناشده دیگر را کشف و به‌گونه مصون از بین ببرد.

به‌منظور کاهش تهدیدات، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث میدان وردک تیم‌های سیار تخنیکی ماین‌پاکی را در سطح ولایت موظف کرده است تا ساحات آلوده را از وجود ماین و مواد منفجره پاک سازی نموده و زمینه زندگی امن را برای باشندگان فراهم سازند.

این ریاست از مردم شریف ولایت میدان وردک تقاضا می‌نماید که در صورت مشاهده ماین، مواد مشکوک یا منفجره ناشده، فوراً با مسئولین مربوطه تماس بگیرند تا از طریق خنثی‌سازی به موقع، از تلفات و خسارات احتمالی جلوگیری شود.

## د سمنګان ولایت په مرکز کې د کیبلي پل استنادی دېوال بشپړ او پرانیستل شو




د سمنګان ولایت د مرکز په آسیاب عرب سیمه کې د کیبلی پل استنادی دېوال، چې د سېلاب له امله ویجاړ شوی و، د ساختمانی کارونو تر بشپړېدو وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه رسماً پرانیست او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

یاده پروژه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له بودجې څخه د اته سوه نه شپېته زره او اته سوه شپږ نوی (۸۶۹,۸۹۶) افغانیو په لګښت پلې او په معیاری ډول جوړه شوې ده.

د دې پروژې د پرانېستې په مراسمو کې د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, مولوی احسان الله احسان، د ولایت مقام استازی، قومی مشرانو، سپین‌ږیرو او د سیمې اوسېدونکو شتون درلود.

د سیمې اوسېدونکو د پروژې د بشپړېدو له امله د خوښۍ د څرګندولو ترڅنګ، د افغانستان د اسلامی امارت له مشرتابه، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او په ځانګړې ډول د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه وکړه او دا اقدام یې د ترانسپورتی وضعیت په ښه والی او د عامه هوساینې لپاره اغېزناک وباله.

مراسم د خیر په دعا سره پای ته ورسېدل.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په سپین بولدک ولسوالۍ کې د استنادي دېوال د جوړولو کار پیل کړ



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په سپین بولدک ولسوالۍ کې د سېلابونو د خطرونو او د ځاني او مالي زیانونو د مخنیوی په موخه د استنادي دېوال جوړولو د پروژې د بنسټ ډبره د یو شمېر سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه کېښوده.
دا پروژه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله د حکم پر بنسټ، د هېواد له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري له لوري تمویل او پلي کېږي.
د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د انجنیرانو لخوا د سپین بولدک ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې سروې ترسره شوې وه، چې پکې د شیرو اوبو کاریز د سېلابونو له خطر سره مخ پېژندل شوو وو او اوس مهال د یو میلیون افغانیو په ارزښت په همدې ځای کې د ۵۳ متره په اوږدوالی د استنادي دېوال جوړولو د پروژې کار عملاً پیل شو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث جوزجان برای ۱،۰۳۷ خانواده مستحق کمک خوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان با حمایت مالی موسسه CDYO، پس از سروی، بتاریخ ۲۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۰۳۷ خانواده مستحق و نیازمند در ولسوالی منگجیک مساعدت خوراکی توزیع نمود.
در این روند با حضور مسوولان محلی برای هر خانواده مقدار ۵۰ کیلو آرد، ۵ لیتر روغن، ۶.۲۵ کیلو دال نخود و نیم کیلو نمک و برای خانواده‌های که اطفال زیر سن پنجسال داشتند، به اضافه آن سوپر سریال نیز توزیع شد.

## په سمنګان ولایت کې څلور کړۍ ماینونه کشف او خنثی کړل شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د اومر ماین پاکۍ مؤسسې تر منځ د هوکړه لیک پر بنسټ، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې د چټکې ځواب وینې ټیمونو په واسطه د دې ولایت په ولسوالیو کې د ماینونو او ناچاوده توکو د پاکولو عملیات پیل کړي دي.
د دې عملیاتو په یوه برخه کې، د یادې مؤسسې د عملیاتو ټیمونو په دره‌صوف پایین ولسوالۍ کې څلور کړۍ د کلستر ماینونه (BLU97) کشف او په خوندي ډول له منځه یوووړل.
د یادونې وړ ده چې د سیمې خلکو د دې عملیاتو تود هرکلی وکړ.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۳۱۵ خانوادهٔ مستحق کمک‌های نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامهٔ امضاشده میان ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ آقاخان برای اسکان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان با همکاری مالی مؤسسه متذکره، برای ۳۱۵ خانوادهٔ مستحق در ولسوالی دره‌صوف پس از سروی، بتاریخ ۲۶ صفرالمظفر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.
در این روند با حضور مسوولان، به هر خانواده مبلغ ۴،۳۵۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع یک میلیون و سه‌صد و هفتاد هزار و دو صد و پنجاه (۱،۳۷۰،۲۵۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

# د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۰مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د پکتیکا ولایت له پېښوسره د مبارزې امادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۱۷۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.

# په بغلان ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل شول

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د OMAR ماین پاکۍ موسسې د بېړنۍ ځواب وینې تخنیکي ټیم QRT-02، د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۷ نېټه د یاد ولایت په دند غوری ولسوالۍ کې ۱ کړۍ تبعې ماین، ۱ حلقه روسې ماین، ۲ عدده د راکټ مرمۍ، ۲ عدده د هاوان مرمۍ، ۳ عدده فریشر پلیټ او ۱۱ عدده بېلابېلې مرمۍ موندل او په خوندي توګه یې له منځه یوړلې.




د یادونې وړ ده، چې د چاودېدونکو توکو له امله د خلکو ځان او مال له خطر سره مخ وو او د سیمې د اوسېدونکو د غوښتنې پر بنسټ د ماین پاکۍ دا عملیات ترسره شول او اوس مهال د دې ناچاوده توکو په پاکولو سره سیمه له خطر څخه پاکه او د سیمې اوسېدونکې له احتمالي مرګ ژوبلې او نورو زیانونو څخه خوندي پاتې شول. د یاد ریاست مسؤلینو له خلکو څخه غوښتنه وکړه چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په وخت کې دې ژر تر ژره د اړونده مسؤلینو سره د اړینو اقداماتو ترسره کولو لپاره اړیکه ونیسی.

## د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵۰ راستنېدونکو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې

د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالو چارو آمریت سره په همغږۍ، له ایران هېواد څخه راستنېدونکو ٤٥٠ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د صفرالمظفر ۲۶ نېټه د خوراکی توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۲۵ کیلویی وریجې ووېشل شوې.

**عامه پیغامونه :**

**9. وتړ په احتیاط چلوئ چي هدف ته ژر ورسېږئ چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کیدو له امله دربانډې ناوخته نشی**

**10. ماینونو او ناچاوده توکو ته لاس مه وروړئ که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکي مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ**

**11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دې**